
سیمای شهید

ولا تقولوا لمن یقتل فی سبیل الله اموات (البقره ۱۵۴)



دستور خدا (ج)

وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا ○

وهر که بترسد از خدا (ج) پدید آورد برای او مخلصی (خلاص گاه)

وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن

ورزق دهدش از آنجا که گمان ندارد. وهر که

يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ

توکل کند بر خدا (ج) پس خدا بس است او را، به تحقیق الله تکمیل کننده است

أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ○

کار خود را (یقیناً) گردانیده است برای هر چیز اندازه.


(۲-۳- الطلاق)

بسم الله الرحمن الرحیم

مجله سیمای شهید

حزب اسلامی افغانستان

سال دوم شماره دوازدهم ، سیزدهم ، چاردهم قوس ، جدی ، دلو ۱۳۶۰ هـ ش



آنچه درین شماره میخوانید

شماره	مضمون	صفحه
۱	آرمان شهید	۴
۲	سلاله از تبار پاکبازان	۵
۳	مجاهد او دهغه خصوصیات	۹
۴	د جوزا داتم قهرمان شهید	۱۲
۵	کجا میروند؟	۱۶
۶	نومیالی او باایمانه شهید استاد عبدالعظیم	۱۸
۷	تیره شپه خوبیره نشی	۲۰
۸	معرفی یک چهره جاودان	۲۵
۹	حاضر قیام قیلوش ظلمسی دور	۲۷
۱۰	شهید استاد محمد امین	۳۰
۱۱	د جهاد په ډګر کی قهرمان شهید	۳۲
۱۲	شهید قاری تاج محمد فدائی	۳۴
۱۳	شهید استاد غلام حبیب	۳۶
۱۴	شهید اسدالله صافی	۳۹
۱۵	زمزمه های انقلاب	۴۰
۱۶	اسلام او امپریالیستی قوانین	۴۳
۱۷	قهرمانان میدان نبرد	۴۶
۱۸	پروردگارا فقط بخاطر تو !	۴۹
۱۹	شهدای راه حق	۵۱
۲۰	قربانیان راه خدا (ج)	۵۲
۲۱	گلگون کفنان سنگر حق	۶۱

آرمان شهید

درین دشت بی کرانه و خموش که با جسد پاره پاره و خونینم تنها افتاده ام. و دیدگانم جز اختران شب گرد آسمان، هالهٔ یکشبهٔ ماه و افق نیلگون چیزی نمی بیند. عنقریب است همای سبکبال روحم از تنگنای هستی ناپایدار، در پهنهٔ ابدیت به پرواز آید، و به خلد برین از عنایت آفریدگار رهنمون گردد. شما ای قطره های گهرسان خونم!، ای نشانه های پیروزی من!، ای آیت های غیرت و شجاعتم درین راه! ...

به شما ای قطره های دوست داشتنی خدا (ج) که بر سنگ های ماحول وجودم نقش بسته اید، شاهد باشید که من در راه خدا (ج) و تنفید دین او، و در راه رهایی انسان ها از اسارت انسان ها و خواندن شان بسوی او (ج)، عاشقانه شهید گردیدم.

ای قطره های محبوبم !!

از من به رهروان راه شهادت بگویید که گواهی دهید که در آخرین دقیقه بهار عمرش، و در لحظاتیکه بهشت جاودانی بدیده های خونبار او رنگارنگ جلوه نمائی می کرد و به یاد شما بود، به خاطر شما اشک می ریخت و چنین زمزمه می کرد:

ای آفریدگار من! نشود در روز بی رنگ زیبائی های زودگذر دنیا ... زمام، و به دوستان خالص من که درین راه به پیمان خونین بستند غلبه حاصل نماید، و نسبت به این عهد بی وفائی گزینند و از مرگ سرخ بهراسند، نشود بدل های هم فکرانم ظلمات یأس سایه اندازد و نور امید شان خاموش گردد، نشود قلت ... شان در برابر اکثریت) دشمنان سرخ آنها را از جنبش باز مانده و خدا نخواسته از قلهٔ بلند در منجلاب شکست سقوط نمایند

ای قطره های خون گرم من!

شما گواه آخرین سخنانم به رزم آوران حق گزین این راه باشید، و به آنها شهادت دهید که او می گفت: آزادی و شرافت تان در شهادت است، به آرزوی شهادت شتابان گردید تا دروازه های هدایت بروی تان باز شود. و با داشتن این آرمان به همه دشمنان پیروز خواهید بود.

سلسله ای از تبار پاکبازان

مسئله شناخت انسان و تفکر در اسرار آفرینش او تنها مسئله ایست که از همان عنفوان خلقت آدم با خمیره مغز او عجین شده است و ذهن او را طی سالیان دراز زیستش در روی کره خاکی به خود معطوف داشته است از اینرو در آن زمانیکه بشر ما قبل التاریخ جز سنگ های تراشیده شده حربه ای نداشت همیشه در اطراف این سوال به تفکر می پرداخت ، که او چه هست ؟ و از کجا آمده است ؟ و از جانبی هم خداوند مقیت و رؤف برای انسان عطیهٔ حواس، عقل و ضمیر بیدار را عنایت فرمود تا با استفاده از آنها و به یاری ایشان در مدرسه های «معرفت» ، «علم» و «تمیز» در پرتوی استعداد های نهادیش به پژوهش بپردازد و همراه با تحقیق و تدقیق پیگیر در ساحه شناخت خودش و شناخت هستی ، و در پایان شناخت خالق کائنات شهادت نامه پر افتخار شناخت خدای واحد و لا شریک را نصیب گردد.



محمد نادر بدخشی یکی از بانیان تحریک اسلامی در کشور

از همین جاست که انسان از همان آغاز خلقتش یکجا با این سوال «که او چه هست و از کجا آمده است؟» وارد این مدارس شده و پیوند فکرت او با عالم لاهوت و یا دنیای ما بعد الطبیعه قوت یافت و از همان اول حیاتش به نحوی از انحاء به وجود عقل کاملی که موجد همه این موجودات از جمله انسان باشد قائل گشت ، انسان های پیشین که هنوز جزء حواسشان برای فرا گیری درس الهی و توحیدی در مدرسه «معرفت» وسیله ای نداشتند از تلاوش حیات بخش خورشید و از لا بلای انوار بلورین مهر ، و از موج خیز دریا های خروشان و از بی پایانی افق نیل فام به حقیقت صانع این

همه مکونات و معجزات پی می بردند. . وقتی بشر با انکشاف استعداد عقلی اش و بارشد بیم دهنده ضمیرش به مدارس «علم» و «تمیز» گام نهاد توانست موجودیت خدای یکتا و بی نیاز را از کشف رابطه علت و معلول ثابت سازد و از طرف هم در آئینه با صفای ضمیرش تصویر حقیقی خودش را نگریست و با شناخت واقعیت حدوثی خودش ، نور پر سعادت الهی در آینه ضمیرش پرتو افگند و در روشنائی این نور خدایش را شناخت.

همه پوینده‌گان حقیقت درین مدارس تحصیل کردند و اکثراً افتخار فراغت نصیب شان گشت ، ولی بودند عده‌ای که در نیمه راه تحصیل و پژوهش از درک و فهم واقعیات انکار ناپذیر عاجز ماندند و در اثر وسواس شیطان نفس شان راه ضلالت و گمراهی در پیش گرفتند و نتوانستند بصورت حقیقی خود شان را بشناسند از اینرو چون از خود شان و محیطه ماحول شان شناختی منطقی و اصولی نداشتند وجود خالق هستی ومحدث این همه ممکنات و محدثات را نفی نمودند. حتی دسته ای هم از انکار خالق کائنات و موجودات پا فرا تر نهادند ، حقیقت و هستی همه چیز به شمول خود شان را خیال و تصور محض قلم داد نمودند بعضی‌های چون ارسطو وحامیانش که خود شان را سر قافله علوم عقلی به حساب می آوردند گاهی انسان حیوان سیاسی نام نهادند وزمانی هم او را فقط حیوانی نطق کننده تعریف نمودند ، افلاطون انسانرا فقط از روی پوست و ناخون‌های پهنش شناخت و در آینه ضمیرش جزء تصویر ظاهری انسان چیزی را ندید ، منطقیون انسان را به مقیاس رفتار بالقوه‌اش شناختند و جز ، این جمله کوتاه و سطحی نتوانستند تعریفی نهادی برای انسان عرضه بدارند.

طایفه‌ای انسان را به پیمانه برخورد ها و واقعیت های اجتماعی او وزن زدند و او را فقط حیوان اجتماعی گفتند این افکار خرافی و نابجا در زمینه شناخت انسان و هستی شایع گشت ، بشریت چون غریقی دست و پا شکسته در گرداب های از این افکار متباین و دور از واقعیت قرار گرفت هر آن این گرداب های هلاکت بار او را به کام خویش می کشانیدند روی این ملحوظه باز هم بحر رحمت خداوند مستعان متلاطم گشت همراه با آنهمه عنایات و نعماتی که در حق انسان روا داشته بود یکبار دیگر رحمت خاصه اش را شامل حال او ساخت [illegible] نجات روح انسانیت از ورطه دهشت بار کفر و ضلالت فرستاده‌گان بر حقش را در بین جوامع بشری مبعوث کرد تا با انبعاث این رسولان بزرگش جامعه انسانی به پیروی آنها از کولاب کشنده اباطیل وار اجیف گمراهان و فتنه‌گران نجات یابد. و در روشنائی ارشادات و پیام های حیاتی این فرستاده‌گان خداوند که جزء ذات اقدس کبریائی مبدأ نبعانی ندارند، از انسان و هستی و خالق آنها شناختی اصولی و حقیقی کسب نمایند.

در راس این پیام آوران بزرگ حضرت سرور کائنات محمد(ص) قرار دارد. اوست که مشعل دار امت وسط است ، وانسان را بزرگ ترین مظهر جبروت خدای عزو جل در عالم کون میداند. . . اوست که تاج مرضع کرامت را بر فرق آدمی نهاد او را خلیفه پروردگار عالمیان خواند، وبشر خاکی را غایه نهائی همه این موجودات مستود ، انسان در رابطه با معنویت ، جوهر و ذاتیاتش تعریف می نمود ، انسانرا مصور به صورت الله و متصف به صفات حمیده ذات پروردگار خطاب کرد و در پرتو ارشادات سازنده اوست که

بشریت ظلوم و جهول راه یاب گشت و خودش را آنطوریکه هست شناخت و از شناخت منطقی و اصولی خودش ایمان و اعتقادش به وسعت بی پایان به قدرت مدبر هستی سرحد علم الیقین می رسد.

آری ! باطلوع نوید بخش خاتم النبین حضرت محمد(ص) دیگر برای آنهائی که واقعاً می خواهند در مدرسه ضمیر و علم به تحقیق بپردازند در مورد شناخت حقیقت انسان ، هستی و خدای دادگر و بی نیاز ابهامی باقی نمانده است ، از همین جاست که رسالت پیامبر بزرگ اسلام(ص) فارغ ازمحدوده زمان و مکان خاص و متعین امت و منطق ومبنای دین مقدس او هیچگاهی در لا بلای پرده های متلون روزگار جزالت و اصالت اش را از دست نه خواهد داد. بدین معنی که خداوند بزرگ همیشه در امتان پیامبر بازپسینش انسان های را بر می انگیزد که در راه پخش و نشر آئین نجات بخش اسلام جهد نمایند و امثله ها و نمونه های بارزی از انسانیت برای جامعه انسانی باشند ، و انسان را برای آدمی در عمل کرد ها و برخورد های اجتماعی شان معرفی نمایند ، و آدمی در آینه براق شخصیت والای آنها میتواند به عظمت انسان و هدف های ملکوتی اش پی ببرد، چنانچه پیامبر بزرگ اسلام(ص) درین زمینه فرموده است که خداوند درمیان امتان من در راس هر صد سال مجددی را خلق می نمایند که در راه احیای عظمت دین من تلاش خواهند نمود. «رواه بیهقی عن ابو هریرة» وهم احادیثی دیگری که آنها را (عبدالرحمن ابن [illegible]) و حضرت معاویه(ض)روایت نموده اندنیز از قیام وارثینی که ادامه دهنده راه او در آینده خواهند بود و برای امتانش مژده داده است.

بدین منوال بر طبق این سنت لا یزال الهی درمیان امت اسلامی همیشه در هر سده ای مجددینی و احیا کننده گانی قیام می نمایند که ادامه دهنده راه انبیاء(ع) و فرستاده گان بر حق خداوند خواهند بود و خداوند مجیب ایشانرا مظهری از قدسیت ، ثبات و مکارم اخلاق می آفرینند در افق قیرگون جامعه اسلامی ما نیز به اراده و مشیت پروردگار عالمیان چنین اخترانی و امثله های ظهور کردند ، تا درین دورانی ظلمات ، اباطیل منادیان شیطان و ایادی جیره خوار شان فضای کشور ما را در خود فرو برده بودند ، و اهریمن شب های ظلم و ستم بیدادگران، چادرسیاهش را بر صفحه حیات ملت مسلمان ما گسترده بود ، مردمان دردمند ما را از پرتگاه هولناک کفر و الحاد سفسطه گران سرخ نجات بخشند، و یکبار دیگر باقیام نهاد آفرین شان مشعل فروزان دین خدا (ج) را درین سرزمین مرد خیز برافروزند، همین امثله های انسانیت وارثین بر حق خطه سازنده نبوت بودند که در سال ۱۳۴۸ بنیان تحریک اسلامی افغانستان گذاشتند و با گرهم آئی این بزرگ مردان رسالت مند طلیعه دل افروز فجر انقلاب اسلامی میهن طالع گشت.

درین جا ما از جمله این ناجیان بزرگ و کم نظیر نکات چند در زمینه وقایع حیات و شرح زندگی محمد نادر (بدخشی) نیک مرد مهذبی که پارچه از مکارم اخلاق و ترس از خدای قهار به شمار می رفت خواهیم نگاشت به حق او را، خدای یکتا همانند دیگر قافله سالاران تحریک اسلامی ما نمونه ای از اخلاص ، تقوی، و کتله از ثبات و پایداری در مسیر مبارزه آفریده بود.

از منادمین و همصفان نزدیک نابغه شهید داکتر محمدعمر به حساب میرفت ، همانند او از تمامی استعداد ها و شمائل ستوده یک مسلمان هدفمند برخوردار بود، او که از همان آغاز سپیده دم

تحریک اسلامی ما در صف پیش تازان این نهضت‌جا داشت همیشه افتخار پیشگامی سر سپرده‌گان این تحریک، در صفوف جهاد و نبرد با دشمنان خدا نصیبش می شد محمد نادر «بدخشی» در سال (۱۳۳۱ ه‍) در یکی از قصبه های مرد پرور ولسوالی کشم ولایت بدخشان پا به عرصه این جهان پرآشوب گذاشت، پدر بزرگوارش که «محمد صادق» نام داشت از همان اوآن کودکی به عظمت روح و نبوغ فکری فرزندش پی برد لذا همراه با همه مشکلات در دوری که در زندگی داشت ، در آماده ساختن وسائل تعلیم و آموزش او سعی بلیغ به خرچ داد.

همان بود که این نورسته اسلام بزودترین فرصت تعلیمات ابتدائی خویش را دریکی از مکاتب واسوالی جرم به پایان رسانید و بعد ازسپری نمودن دوره متوسطه چون در طول تحصیلش همیشه شاگرد ممتازصنفش محسوب می‌گشت به غرض پیشبرد تعلیمات ثانوی وارد دارالمعلمین کابل شد ، در حین تحصیلش در دارالمعلمین کابل با یکی از بزرگ ترین طلایه داران تحریک اسلامی «دکتور محمد عمر شهید» آشنائی بیشتر کسب کرد و هنوز در صنف یازدهم این لسیه بود که اولین حلقه تحریک اسلامی افغانستان اساس گذاشته شد. و او با الهام از ضمیر آگاهش به این حلقه که هنوز تعداد شان ازشماره انگشتان دست‌تجاوز نمیکرد پیوست ، و با تلاشی بی امان در راه بسط و توسعه دعوت اسلامی در بین جوانان ساحی‌این مرزبوم به فعالیت پرداخت ، او همراه با محاسن عملی و فکری اش با هر که معاشر می گشت در او تحولی عمیق ایجاد می کرد و از برخورد سازنده اش در او اثر می گذاشت.

اوبعد از فراغت از دارالمعلمین کابل وارد (پوهنځی حقوق)وعلوم سیاسی شد. در ساحه پوهنتون کابل با منطق رسایش قلب صد ها جوان دوراز اسلام را به‌نور معارف اسلامی منور ساخت با به میان آمدن جلاد بزرگ «داود» میزان فعالیت هایش افزود به همین منظور در اواخر سال ۱۳۵۳ه‍ یکجا با تنی چند از هم‌رزمانش هجرت گزید و بعد از چند ماهی دوباره رهسپار کابل شد و دو باره بدرسش در پوهنتون کابل ادامه داد. تا آنکه در تابستان سال (۱۳۵۴ ه‍)به دستور مقامات نقابت و رهبری تحریک اسلامی افغانستان به خاطر آغاز نبرد مسلحانه برعلیه طواغیت عصر راهی بلندی های مرد خیز هندوکش شد، درین عملیات او همدوش با دیگر شیر مردان تحریک اسلامی ما در موضع «راه تنگ» بر سپاهیان شیطان حمله برد، و بعد از زد و خوردی شدید مجروح گشت، ایادی سفاک «داود» او را با تن پاره ، پاره اش به زندان سیاه د همزنگ گسیل دادند ، این کوه ثبات و مقاومت با شهامت تام همه مشکلات و شکنجه های زندان و اسارت را تحمل می کرد ، محکمه نظامی داود جبار او را به جرم ایفای رسالت بزرگش به حبس دوام محکوم ساخت. در زندان او به تدقیق و پژوهشش برای کسب علوم دینی ادامه داد. و همه برادران او را چون آموزگاری بزرگ احترام می‌گذاشتند و اعمالش را سیر مشق‌سیر تکاملی شخصیت شان قرار میدادند. نظر به همین مقام ارجمندی که نزد همه برادران این تحریک داشت به اثر انتخاباتی که با شرکت برادران حزب اسلامی افغانستان و جمعیت اسلامی افغانستان در بلاک قلعه جدید محبس (د همزنگ) به تاریخ ۲۸ دلو (۱۳۵٦ ه‍) صورت گرفت به مقام رهبری جانبازان محبوس نهضت اسلامی ما در آن بلاک نایل گشت.

وقتی در نتیجه توطئه ننگین

(بقیه در صفحه ۱۱)

مجاهد او دهغه خصوصیات

پدی وړه څیړنه کی کښه هم د جهاد ټول شرایط او غوښتنې نشی ځائیدلی خو بیاهم په لنډ ډول د یوه مجاهد کردار او د جهاد هدف تر بحث لاندې نیسو.

اول : د یو مؤمن مجاهد لپاره ضروری ده چې د خپل زړه نه، د شهرت، طلبی د مال، دولت او غنائیمو د حصول طمعه، د شخصی او قومی عداوت انتقام، د شجاعت او مردانگی لافی او بیا هر ډول شیطانی جذبی، کاملاً وباسی. په زړه کی ئی د خدای(ج) د رضاء په عوض کومه بله اراده ځای و نه نیسی، د هر مافوق مسئول په اطاعت او د اسلامی احکامو په پابندی کی غفلت و نکړی، ان تردی چې خپلی ټولی بشری او مادی اسری هم د اسلام په لار کی قربان کړی، په خپل هر قول، فعل او ټولو حرکاتو او سکناتو کی باید د یو سچه مسلمان مجاهد څیره تمثیل کړی، کوم مؤمن ته په ژبه او لاس سره هیڅ نوعه تکلیف و نه رسوی تردی چې خپل جهاد له هر لحاظه مکمل، خالص او جامع کړی.

هر طاغوتی طاقت چې د خدای(ج) د دین د حاکمیت سره حساسیت لری، د هغه سره مقاومت باید خپله و جیبه وگنی، بی لدی چې ظاهری غلبه او پیروزی په نظر کی و نیسی باید د اسلام د ژوند جوړونکی دین د حاکمیت تلوسه ئی رهبری کړی ترڅو ستر بری (شهادت) او یا د اسلام د اصولو د پتمن سیوری لاندی ژوند ور په برخه شی، د ژوند په ټولو ابعادو ئی باید د لوی خدای(ج) بندگی وکړی او د هغه د کلمی د لوړ والی او د کفر او الحاد د محوه کولو لپاره و جنگیږی، دا ځکه چې د ایمان د خاوندانو جهاد او قتال یوازی د الله(ج) د دین د تسلط په خاطر وی او دغه جهاد باید د دوی د ټولو او صافو او کمالاتو هنداره وی.

هو! دا د اخلاص تقاضا او غوښتنه ده چې د جهاد په ټول دوران کی باید دا په ثبوت و رسوی چې هغه د کوم دنیاوی او شهرت غوښتنی لپاره ځان مرگ ته نه ورکوی بلکه د خارجی شیطان د وژلو په څنگ کی د نفسانی خواهشاتو سره هم جهاد کوی، همدا روحیه تقاضا کوی چې په اسلامی احکامو پابندی، د جهاد د آدبو رعایت، د خپلو همسنگرو ملگرو خدمت او بالاخره د خالصی عقیدی په درلودلو سره خپل هدف ته د رسیدو په لاره کی نه یوازی هیڅ نوعه تنبلی نه کوی بلکه د خپلو مسلمانو ورونو لپاره د لاری ټول خنډونه له منځه وړی او د آسانتیا موجب ئی گرځی. ان تردی چې د فداکاری جذبه ئی دومره زیاته وی چې د نورو لپاره نمونه شی.

همدا راز د فتوحاتو په صورت کی دا ثابته کړی چې د هغو تخریب کونکو او فساد گرو عناصرو له جملی څخه ندی چې

قرآن عظیم الشان ئی پداسی الفاظو کی ذکر کوی.

(ان الملوک اذا دخلوا قریتاً فسدوها وجعلوا اعزة اهلها اذلة)

(نمل ۳٤)

یقیناً پادهاشان کله چی کوم نارته ننوزی هغه فاسد وی او د عزت خاوندان ئی ذلیلوی.

پدی کی هیڅ شک نشته چی هر وخت طواغیتو په ملکونو قبضه کړیده په نورو قومونو ئی بری موندلی دی نه یوازی د اصلاح او خیر خواهی لپاره ندی بلکه د دوی غرض چور او چپاول، ظلم او وینی تویول دی، هغه غواړی د نورو مظلومو قومونو له طبیعی منابعو څخه گټه واخلی او تر خپل تسلط لاندی ئی خلک دومره بی وسه کړی چی بیا د دوی په مقابل کی هیڅکله هم سر پورته نکړی او خپله آزادی و نه غواړی. د خپلو شومو آرزوگانو په خاطر د مظلوم قوم د خوشحالی طاقت او عزت ذرایع ختموی که څوک و غواړی چی د دیکتاتورانو له منگلو څخه د حق غوښتنی آواز د خلکو غوږو ته ورسوی، هغه فوراً چخپیتوی او له منځه ئی وړی. هغه ان تردی حده کوشش کوی چی په ملت کی د جاسوسی، د خپل تهذیب تحقیر، د اشغالگرو د تهذیب تعظیم او داسی نورتیت او صاف په هغوی کی را پیدا کړی او دی ته ئی تیار کړی چی د خپلو ټولو مقدساتو په خرڅولو کی هم ځنډنه کوی او په جرأت سره له ذلیلونه ذلیل عمل ته تیار شی.

مجاهدین باید د طاغوت د سر د مدارانو خواص نه یوازی غوره نکړی بلکه ددی په خلاف باید د اسلام د لاری د مجاهدینو شان د هغو فاتحینو په ډول وی چی قرآن کریم ئی ستاینه داسی بیانوی.

(الذین ان مکنّٰهم فی الارض اقاموا الصلاة واٰتو الزکاة و امرو بالمعروف و نهو عن المنکر).

(حج ٤٠)

دا هغه خلک دی چی په ځمکه کی دوی ته اقتدار ورکړونو دوی لمنځونه قایموی، زکوة ورکوی، په معروف حکم کوی او له منکر نه مخنیوی کوی.

ربښتیا هم د خدای(ج) د تائید او نصرت مستحق خلک داسی وی چی که په دنیا کی هغوی ته حکومت ورکړی شی نو د فسق، فجور، غرور او کبر په عوض لمنځونه قایموی د عیاشی او نفس پالنی په ځای د زکوه په ورکولو ټینگار کوی او د منکراتو د ترویج په عوض معروف ته خلک را بولی.

دوهم: مجاهدین باید د جهاد او نورو جگړو تر منځ تو پیر ته ځیر او هغه و پیژنی.

اسلامی جنگ (جهاد) د خدای(ج) د کلمی د لوړولو لپاره وی، پدی جنگ کی یوازی د



فرزندان به پاخواسته اسلام په چشم می خورند که در طی یک عملیات دشمن برانداز از لشکریان سرخ مقادر اسلحه و مهمات را به غنیمت گرفته اند و آماده اند تا دوباره بسوی سنگرهای جهاد حرکت نمایند.

ملکونو فتحه او نیول منظور نه وي بلکه د هغه اصولو، ضوابطو، آدابو او اخلاقو غلبه هم په نظر کې باید و نیول شي چې په جنګ او سوله کې الله(ج) مقرر کړي دي.

برخلاف د ریا کارۍ او شجاعت ښودنې جنګونه چې هر څومره په دنیا کې منځ ته راغلي د فساد، ظلم، انسان وژنې او د وینو تو یولو پیغام ئې له ځان سره را وړی. لدې کبله اسلام ټولې هغه جذبې د اسلام له مقاصدونه ایستلې کوم چې په (جنګ د جنګ لپاره) یا جنګ د ملکونو د فتحې لپاره) بناء وي او د هغه په عوض ئې د (جهاد د امن لپاره) او (جهاد د کلمة الله د لوړو الی لپاره) ضابطه قایم کړیده چې د هر راز ناحقه انسان وژنې او فسادونو د مخنیوي ذریعه ئې جوړه کړې ده.

د جهالت د زمانې جنګونه اکثراء د دوو مقصدونو څخه خالي نه وه.

اول دا چې د دنیوي ګټو د لاس ته را وړلو د پاره که د دولت او مال په بڼه وي یا د ښارونو و کلیو د قبضې په ډول. او یا هم د انسانانو د غلام کولو او استثمارولو په بڼه کې.

دوهم دا چې په دنیا کې د جهانګیر، رستم او سهراب د لقب مونډلو او د شرق او غرب په تاریخ کې د فاتح اعظم د لقب د ګټلو د پاره.

نو ویلای شو ترڅو چې جنګونه خاص د خدای(ج) د رضاء او د اسلام د دین د حاکمیت لپاره نه وي، معرکات ئې د غنایمو طمعه، د شجاعت اظهار، ریاکاري او انتقام اخیستلو څخه پاک نه وي، تر هغو وروته نه یوازې جهاد فی سبیل الله نه ویل کیږي بلکه هغه جنګ فی سبیل الطاغوت دی. هو! که چیرې بو مجاهد اصلي او اساسي هدف اعلای کلمة الله وي، خو ضمناً د شجاعت اظهار هم وکړي د خپل قوم او وطن د مدافعت فکر هم ولري او له کفارو نه د انتقام اخیستلو جذبه هم ورسره وي څه قباحت پکې نشته یعنې شرط چې په اصلي مقصد او هدف (د کلمة الله اعلاء) کې ئې انحراف را نه ولي ځکه رسول الله(ص) هم د زړه ورو مجاهدینو توصیف کړیدی لکه تردې چې د اهل کفر نه ئې انتقام ایماني غیرت بللی دی او بله دا چې خدای(ج) هم مجاهدینو ته د غنایمو جواز ورکړی ترڅو له یوې خوا د خدای(ج) د کلمې د لوړ والي لپاره جهاد وکړي او له بلې خوا په ضمني شکل د غنایمو څخه هم برخوردار شي. (والسلام)

سلاله داران تبار ...

(۷ ثور) اجنبی پرستان ملحد زمام حکومت را در افغانستان بدست گرفتند تمامی اعضای نهضت اسلامی افغانستان که در محبس بسر می بردند به دژ دهشت بار پل چرخی منتقل نمودند او نیز درین میان شامل بود ، محمد نادر (بدخشی) در پل چرخی نیز یک سال تمام را با کمال صولت و پایداری سپری کرد تا آنکه شامگاه خونبار ۸ جوزای سال (۱۳۵۸)ه فرا رسید، درین شب که مزدوران زالو صفت روس می خواستند دست های کثیف شانرا به خون (۱۱۷) نفر از بزرگ ترین شخصیت های برازنده نهضت اسلامی ما رنگین سازند او بازهم با یورشش برسپاه طاغوت پرستان آیتی از پیکار و مبارزه، و حماسه‌ای از ایثار و قربانی آفرید و در پایان این نبرد تاریخی همراه با (۱۱۷) نفر از دلیر مردان نهضت اسلامی به خون گرمش خفت و به آرمان دیرینه اش «شهادت» واصل گشت خداوند دادگر همه برادران تحریکی او را توفیق عنایت فرماید تا راهش را مستدام دارند و تا نام نامی او وجمله سالاران انقلاب اسلامی ما را زنده نگهدارند.

د جوزا د اتمی قهرمان شهید

سحرگل



د لمرز رینو وړانګو ورو ورو خپل ځای د ماښام تیارو ته پریښود ، هری خوا ته د مرغیو چغهار وو ، ټولو ورخ ئی په آزاده فضا کې تو خوا ځای خوا آلوتنې کړی وی او ژر ژر ئی ځانونه خپلو ځالو ته رسول.

د ماښام تور پړونی د ځمکی پرمخ خپور شو او ورسره جوخت په شنه اسمان کی ځلانده ستوری را څرګند شول. د پغمان د غره د پاسه خړی وریځی کړنګ کړنګ ولاړی وی او د ختیځ خوا ته را نږدی کیدی ، داسی بریښیده چی ګنی پدی شپه یو ځل بیا د ظالم لاسونه د مظلوم په وینو سره کیږی او دغه وریځی غواړی دغه جنایت دستورو له مخ نه پټ کاندی.

هو ! همداسی وه ، پدی شپه د جنایتکارانو په تاریځ یوه بله د ننګ او انسان دښمنی پانه زیاته شوه او د ایمان او عقیدی په تاریخ کی د ایثار ، اخلاص او صداقت څو نومونه په زرینو کرښو ولیکل شول.

د پلچرخی تور او وحشتناک زندان هم د ماښام تیارو لاپسی تور او وحشتناک کړی وو ، هلته په زرها وو بی ګناهو انسانانو د ماښام د تیاری په خوریدو سره د جنایت او ظلم د نوو صحنو د ننداړو انتظار ریست.

خو پدی شپه ! پدی خونړی او غمجنه شپه د انسان دښمنه جلادانو ښکار هغه (۱۱۸) تنه د اسلام د لاری اتـل او مخلص مجاهدین وو چی غـدار داؤد د خیل اقتدار په تور او ننګین دور کی د زندان په پنجرو کی د اسلام غوښتنی په جرم راګیر کړی وو او لاس تړلی ئی د روس مزدورانو ته و سپارل.

د شپی د ۹ بجو په شاوخوا کی د پنجرو ترشا د اسلام د لاری د

دغو قهرمانو بچیانو نوموونه ولوستل شول او هغوی ته د را وتوامرو شو.

پدی نومونو کی د ده نوم هم ولوستل شول. له څوشیبو سکوت او خاموشی نه وروسته د کوټی پنجره پرانستل شوه، په دهلیز کی ښکته پورته لاړ، د خپلو نورو ورونو سره ئی پدی وخته بحثلو خبری وکړی. که څه هم ... دانو دوی ته ویلی وو چی خلاص شوی، خو ده خپلو ورونو ته مخ ورواړا وه او ورته وئی ویل:

زه پوهیږم چی چیرته موبیایي! په ډیر جرأت سره ئی خپلو ورونو ته مشوره ورکړه چی باید د ژوند پدی وروستیو ګړیو کی دغو مرتدانو او انسان دښمنه عناصرو ته روغ زنتي تسلیم نه شو باید مقاومت وکړو څکه د دار له کړیونه دګولیو په واسطه غلبیل غلبیل سینه ښه ده...

هو! دا د ایمان متانت او میړانی نمونه سحر ګل نومید، چی مستعار نوم ئی (زلمی) وو په (۱۳۳۲) کال کی د لغمان په ولایت کی زیږیدلی وو.

زلمی د خپلی متدینی کورنی په غیږ کی داسی وروزل شو چی د اسلامی علومو د زده کړی سره ئی زیاته مینه پیدا کړه هماغه وه چی د نجم المدارس په مدرسه کی په زده کړه بوخت شو.

زلمی ورو ورو لوئیده او د لوئیدو سره سم ئی په خپل چاپیریال کی داسی کارونه او عملونه لیدل چی د ده اسلامی روح به ئی خوروله، هری خوا ته د فساد، ظلم او غیر اسلامی اعمالو تغر خواره وه، په تیره بیا د کمونستانو ښکاره او څرګند و فعالیتونو به زلمی سخت خورا وه. د دی فساد او ظلم د مقابلی د پاره به ئی راز راز فکرونه کول تر څو په ۱۳۴۹ کال کی د اسلامی تحریک د والله اکبر، کفر لړزونکی ناره د ده غوږونو ته هم ورسیده او د رسیدو سره سم ئی هغه ته لبیک وو ایه او د لومړی ځلی لپاره ئی په هیواد کی د اسلامی اصیل نهضت د توغ او چتولو قهرمان او فداکار مشر ورور مولوی صاحب حبیب الرحمن سره اړیکی ټینګی کړی.

زلمی د خپل ګران استاد په لارښوونو د اسلامی تحریک د غوښتنو سره سم د ظاهر شاه د فاسد رژیم په خلاف په ټولو مظاهرو، میتنګو، ویناګانو او... کی برخه واخیسته او په ډیر اخلاص ئی په خپل ټول توان سره هلی ځلی پیل کړی تر څو د فاسد ظاهر رژیم د روس د کودتاګی (داؤد) په وسیله وا تشکور شو او د قدرت واګی د روسانو سر سپارلیو غلامانو لاس ته ورسید.

نوی رژیم زیارو ویست په هره وسیله چی کیږی د اسلامی تحریک مخه ونیسی، چی پدی سلسله کی ئی په نیولو، وژلو، ترورونو او... لاس پوری کړ. رژیم د نورو نه سر تیره د زلمی په نیولو پسی هم ډیر ځان ستړی کړ خو بریالی نه شو.

۱۳۵۴ کال وو، د رژیم واکدارانو فکر کاوه چی د اسلامی تحریک په خلاف د دوی ظالمانه او مزدورانه تلاش نتیجه ورکړی او نور به د اسلام آواز/پورته نشی.

خو څومره خام او پوچ خیال. رښتیا د داؤد هماغه پوچ سر او د ده هماغه پوچ خیالونه.

د رژیم د وحشت د لا زیاتوالی په وجه د اسلامی تحریک مشرانو تصمیم ونیو چی نور د وسله وال جهاد وخت را رسیدلی، باید د رژیم په خلاف وسله وال جهاد پیل شی، د اسلام د لاری مؤمن او زړه ور مجاهد زلمی او شهید آدم خان ته وظیفه ورکړی شوه چی د لغمان او ننګرهار په ولایتونو کی د وسلوالو عملیاتو ځایونو ته وسله ورسوی چی دغو دواړو مؤمنو مجاهدینو خپله وظیفه په ښه توګه تر سره کړه.

عملیاتو ته لاځو ورځی پاتی وی چی زلمی د لغمان ولایت ته د مجاهدینو د تنظیم او هغوی ته د ځینو نورو پروګرامو د ورکولو لپاره واستول شو.

زلمی چی هم په سیمه کی هر چا پیژاند او هم د ملحد دولت جاسوسانو پدی پسی سیمه ځارله. ناځا په د رژیم د وحشی پولیسو لخوا ونیول شو او زندان ته یوړل شو.

د ده لاسونو ته ولچک ور واچول شول او یوی تیاری کوټی ته ور د ننه کړای شو.

هغه چی زندان، ولچک، شکنجی او . . . لا د مخه د ځان د پاره تیار لیدلی وو او د هغه زغمل ئی په ځان منلی وو په کوټه کی آرام کښیناست او د قرآن کریم مبارک آیتونه ئی د شونډ ولاندی زمزمه کول. ده فکر کاوه چی د داسی وحشی لیوانو په لاس ورغلی چی د هغوی له منګلو څخه خلاصون ګران کار دی. خو ژر به ئی توبه و ویستله او له ځان سره به ئی وویل :

نه زما فکر درست ندی هر څه چی د خدای (ج) اراده وی هغه به کیږی. د سوچونو سلسله به ئی ژر پریکړه او د قرآن کریم تلاوت به ئی پیل کړ په همدې فکرونو او تلاوت کی وو چی د لمرو رانګو خپل ځای د ماښام تیاروته تحویل کړ او تیاره ورو ورو زیاتیده. د خپل ځای نه را پورته شو د کوټی په یوه خوا کی وړوکی سوری ښکاریده باغ او ونی ئی ولیدلی، دواړه لاسونه ئی په د یوال کیښودل ترڅو د باغ ننداره ښه وکړی خو په د یوال د لاس کیښو دو سره ئی د یوال لړشانته و لړزید، د لړزیدو سره سم متوجه شو چی د دیوال سور دو مره زیات ندی، نو ئی تصمیم ونیو هغه ونړوی او ځان له دغو جلادانو څخه خلاص کړی،

څو ځله ئی د یوال وخوځاوه د هغه څو ئی خښتې وویستی اوبل ځل ئی په ټول قوت سره په د یوال فشار راوړ او د هغه یوه برخه ئی ونړوله. د نړیدو سره سم د کوټی نه را بهر شو خو سمد لاسه د ده پهره دار پوه شو او د ده مخی ته ته و درید او غږ ئی پری وکړ.

څوک یی ؟

زلمی پداسی حال کی چی دواړه لاسونه ئی ولچک وو، د زه یم د ویلو سره ئی جوخت نوموړی پهره دار وو اهه او وئی غورځاوه او د باغ په لور ئی منډی کړل.

ډیر عسکرو ړپسی ولیږل شول خو د خدای (ج) اراده داسی وه چی زلمی د دغو وحشیانو له منګلو نه خلاص شی.

هغه تر سهاره منډی وکړی او د لغمان ولایت له مرکز نه ئی ځان ښه لیری کړ. ډیر ستومانه شوی وو، د څو شیبو لپاره کښیناست، د خدای (ج) شکرئی ادا کړ او لږ شانته ستومانی ئی ونیوله.

بیرته را جګ شو، خپل پټونی داسی تر ځان تا وکړ چی و لچک لاسونه ئی نه ښکاریدل او د یوه کلی خواته روان شو، کلی ته ورسید، د یوه پښ دوکان ته و درید او ورته وئی ویل :

وروره که یوه خبره درته وکړم خپه کیږی خو به نه ؟

پښ ورته وویل : نه و ایه ولی به خپه کیږم.

زلمی بیا ورته وویل: زه مرستی ته ضرورت لرم او ته صرف دو مره را سره وکړه چی . . .

پښ د زلمی خبره پریکړه، پداسی حال کی چی په سندان ئی سره کړی او سپنه ایښی وه او د څوټکو په زور ئی هوارو له وویل :

وایه څه وایی ؟

زلمی خپل لاسونه له پټونه را بهر کړل او ولچک ئی ور وښودل او ورته وئی ویل:

وروره ! دا ولچک را مات کړه.

پس چې و لچک ولیدل حیران شو ، د زلمي ځیرې ته ئې په ځیر ځیر وکتل او د لږ شیبې چوپتیانه وروسته ئې سرو خوځاوه او د هغه د ما تیدو نه ئې انکارو کړ.

زلمي تری روان شو ، ټیرته ئې لاسونه په پټوکي پټ کړل او یوه ملګري ته چې بزرګرو ورغی او ورته وئې ویل چې دا و لچک را مات کړه. هغه د ولچکو ځنځیر وشلاوه خو و لچک لا هماغسې د زلمي په لاس کې پاته شول ، زلمي خپلو نورو مجاهدو ورونو ته ځان ورور ساوه او د حزب لخوا ورکړل شوي هدایات ئې هغوی ته وویل.

څو ورځې وروسته چې د داؤد د رژیم په خلاف د وسله والو عملیاتو نیټه ټاکل شوې وه پدې عملیاتو کې قهرمان مجاهد زلمي د لغمان دوالي په کور او په نورو دولتي امنیتي ادارو د برید د ګروپ قوماندان و ټاکل شو.

د عملیاتو ورځ را ورسیده. ټول مجاهدین چې په سرکې ئې شهید مولوي صاحب حبیب الرحمن وه را ټول شول ، یوځل بیائې د لوی خدای(ج) سره خپل تړون او تعهد تجدید کړ ، او هر څوک د خپلو وظیفو په لور روان شول.

مجاهد زلمي په ډیره میرانه د مزدور او ملحد رژیم دوالي په کور برید وکړ او د الله اکبر په کفر لړزونکي نارو سره ئې په ډیر کم وخت کې دوالي کور او ځینې نوري دولتي امنیتي ماني و نړولې او هغوی ته ئې د سر او مال درانده تلفات ور واړول. د زیات مقاومت په نتیجه کې لدې کبله چې شپه مخ په تمامیدو وه د شهید مولوي صاحب حبیب الرحمن لخوا د عملیاتو د توقف او مرکز ته د ټیرته تګ امر و شو زلمي د خپلو نورو مجاهدو او قهرمانو ورونو سره عملیات بند او په غره کې د خپل مرکز په لور روان شول. مزدور رژیم د سیمې خلک د فشار او ځینو ته د پیسو په ورکولو وظیفه ورکړه چې مجاهدین په غرونو کې تعقیب کړي.

زلمي هم د دغه بې خبره او اسلام دښمنو عناصرو لخوا تعقیب شو ترڅو د لغمان په یوه غره کې د دوی لخوا محاصره شو.

د زلمي ایمان او اسلامي میرانې دا اجازه نه ورکوله چې دغو اسلام دښمنو عناصرو ته ځان تسلیم کړي پدې هم پوهیده چې پدې خلکو کې ډیر داسې کسان هم شته چې که هغوی پوه شي نو زمونږ تر څنګ به و دریږي خو. . .

خوا مجاهد زلمي د هغې وعدې په اساس چې دوی ور سره وکړه چې نه به نیول کیږي یوازې خبرې را سره وکړه ، د سنګر نه را پورته شو خپلو ځارونکو ته ئې او پدمه وینا وکړه او د رژیم له اصلي بڼې نه ئې خبر کړل او هغوی ته ئې د کمونیزم د ناروا تسلط په ځیره څرګنده کړه. خوله بده مرغه چې د ځارونکي دلې پښتران د (ختم الله علی قلوبهم و علی سمعهم و علی ابصارهم غشاوة و لهم عذاب عظیم) د مبارک آیت مصداق کسان وو.

هغه ئې په ناځوانمردانه توګه ونیو ، په لاسونو کې ئې د غدار داؤد د ظلم او استبداد ځنځیرونه په داسې حالي کې چې مخکیني ولچک ئې لا په لاس کې وو ولویدل او کابل ته و لچک او زولنې یوورل شو.

د وخت رژیم د اسلام د لارې د دغه قهرمان نه هیڅ ډول جسمي او روحي شکنجې و نه سپمولې ترڅو د نظامي تش په نامه محکمې لخوا په اعدام محکوم شو.

زلمي د خپلو نورو ملګرو سره د پلورل شویو قاضیانو په محکې ولاړ وو ، کله چې د محکمې فیصله پورته و اوروله شوه زلمي په شدت لاس پورته کړ او د الله اکبر ناري ئې پیل کړې. د ده څو نارو سره د ده نورو مؤمنو ملګرو خپل غږ یوځای کړ او په های کې ئې

بقیه په (۲۴) مخ

سکوت جهانی چرا؟!

درین روز گاریکه حقا نیت و پیروز مندی اسلام نجات بخش در مقابله با دشمنان آشتی ناپذیر و دیرینش در عرصهٔ زندگی به ثبوت می رسد و هر روز نعره‌های تند اسلام خواهی از حنجره پیروان کفر ستیز این دین افق هستی را درهم می پیچد. و به گوش مستکبرین زمین زنگ خطر هر لحظه نواخته میشود. درین شرایطی که قدرت های دروغین جهان غرض سرکوبی جنبش های الهی به هر نام و رنگی دست دوستی به هم میدهند تا هر چه سریعتر جلو این طوفان های سرکش و ستیزه گر با شرک راسد کنند. نمی گذارند شور و حرکتی درین جهان خفته به غفلت برپا شود ، نمی پذیرند که در حیطهٔ فرمان شان اسلام دوران ساز و پیشرو عرض اندام کند و آنها را از استکبار خود سری باز دارد.

درین مقطعی از زمان که ستم گران خون ریز و مفسدین فی الارض در محاربه با دین خدا(ج) و آئین انبیاءالله به سویهٔ جهانی صف بسته اند تا دوباره پرده سیاه ظلمت و کفر را بگسترانند و انوار هدایت بخش اسلام را خاموش سازند ، تا پایه های نظام جاهلیت را باز در دل این کره خاکی بنانهند. واز سوی هم در بر انداختن نظم های فریبا و متزلزل جنود شیاطین رهروان حزب خدا(ج) بپا خاسته ورستا خیز بزرگ را براه انداخته و هر روز همکیشان زیر ستم شان را به سرنگونی حصار جور و ظلم فرامی خوانند، غرب گرایان چه راهی در پیش گرفته اند؟ ودر دفاع از کدام اندیشه و طرز فکری گام بر میدارند؟ بانگریستن شکنجه و ظلم ، تجاوز و خون ریزی ، تا چه پیمانه از خود گذری نشان داده اند؟ و به آواز های جانکاه و دردناک کودکان معصوم ، پیر مردان مفلوک بیوه زنان وامانده که به کلمات (ربنا اخرجنا من هذه القریة الظالم اهلها. وجعل لنا من لدنک ولیاً و جعل لنا من لدنک نصیراً) از آفریدگار شان طلب رهائی و نجات را از سرزمین استبداد میدارند چه پاسخی داده‌اند؟. آری! پاسخ غفلت و بی خبری ، سیاحت به غرب ، تجارت به خون ، بندگی به غیر !! گاهی هم این نمک حلالان وابسته ضمن گفتگو ها یار سانه های گروهی غرب در لباس زعیم ورهبر دم از انقلاب اسلامی و آوردن نظام عدل وداد می زنند و به فرمان (استعمار سیاه) طرح و بر نامهٔ انقلاب را بسوی انارشیزم و فتور سوق میدهند ، سعی می ورزند تا به این خوش خدمتی ها به سرد مداران غرب، این مردم به پا خاسته را آینده در بند عبودیت شیطان بزرگ بکشانند ،

تاملت از سلطهٔ کفری نجات یابد و در بند کفر دیگر در آید. تلاش دارند تا به خاطر سرکوبی (بنیادگرایان مسلمان!) و ایجاد موانع و درد سر به آنها در صفوف مستحکم سلحشوران با ایمان به اشارهٔ باداران جهانی و دست های پشت پرده نقشه تفرق و هرج و مرج را بریزند ، تا درین کارمزد بیشتری را از هزینهٔ دشمنان کمین گرفته اسلام به کیسه اندازند. با این نفاق افگنی ها ، هوسرانی ها ، اسلام فریبی ها ، و سیه کاری ها به کجا خواهند رفت؟ و در پناه کدام طاقت مادی آرام می‌گیرند؟

آری! روزیکه در قلم‌روگیتی بندگان مخلص خدا(ج) به پیروزی رسند ، انتظام به ظاهر پر زرق و برق سرکشان از حق درهم فروریخته شود ، عنان حکمروائی را در جهان ، اسلام متعالی و رهائی بخش بدست گیرد ، نور حیات بخش خدا (ج) دوباره در اقصا وزوایائی تاریک زمین ساطع شود ، مجدو شکوهمندی مومنان باز زنده شود ، و مرگ فاسطین (سیاه و سرخ) فرا رسد کجا خواهند رفت؟! روزی که چهره های کازبانه اسلام نما ها به جامعه جهانی اسلام بر ملاشود، پرده ها از روی راز داری با دشمن مکشوف گردد و اسناد جنایات غرب گرایان در محکمه حق و عدالت پیش چشم همه افشا شود. آنزمان چه خواهند کرد؟ زمانیکه نه روسیه ای ، نه امریکائی‌ونه انگریزی در صحنه وجود داشته باشد!...

رقصندگان به طبل و کوس غرب بدانند که جز راه مستقیم خدا همه راه ها منتهی به شکست و سقوط خواهد شد. و نمی توان راه غلبه به این دشمن با المواجه را در سیاست های جاهلی (امریکا) و آثار آن جستجو کرد ، راه روشن و منتهی به کمال ، راه سیر به پیروزی محتوم راه خدا(ج) و پاسداران اوست. همین راه است که باطی کردن آن مسلمین به بلند ترین قله هدف و آرمان می رسند و در فرا روی شان شکست و نابودی دشمنان خدا(ج) نمایان میشود. نه راهی که امروز (ریگن) این (رقاصهٔ قلم) مردم را به آن می خواند تا ازین طریق علیه متجاوزین سرخ بوسیلهٔ این ملت مجاهد جبهه گیری کند ویتواند با فراغت خاطر آینده به این سرزمین خدا پرست فرمانروا باشد. آری! (خیال است و جنون).

پاسداران غرب و به ظاهر مسلمان بگوش و هوش بشنوند که : (فماذا بعدالحق الاالضلال فانی تصرفون) پس از بیان حق دیگر جز گمراهی چیست؟

پس کجا می روند؟!

(و به کدام آستان سر می سایند). اگر حقیقت این دین به آنها ثابت گردیده باشد ، علی‌الاقل درسی ازین مکتب انسان ساز گرفته باشند ، نباید سیاست مشخص اسلامی و نحوهٔ عملکردش را با روش ها ، و نظریات جاهلی امروز مزج نمایند ، نباید حرکت های التقاطی و مغشوش را میان مجاهدین مسلمان براه اندازند تا مسیر روشن جهاد بسوی سیاهی ها منحرف گردد!

وابستگان واقعاً مدعی آوردن نظام صد در صد اسلامی درین میهن انقلابی اند باید برسن تاگستنی الهی چنگ اطاعت بزنند و یکبار دیگر در خط منتخب شان دیگر گونی آورند و رجعت کنند بسوی حق. با سازمان های اصیل اسلامی که اللآن دست یکپارچگی را به خاطر خنثی کردن آخرین توطئه های نفاق افگن دشمن به هم داده اند ، هم صدا شوند بدانند که عزت و وقار شان در اطاعت از اسلام و در هم دستی با مسلمانان تأمین است نه زیر سایه استعمار سیاه!.

بقیه در صفحه (۴۴)

لومسالی او با ایمانه شهید استاد عبدالعظیم



د تاریخ په اوږدوکې او د حق او باطل ترمنځ په دوامداره مبارزه‌کې ، د حق پلویانو تل د طاغوتیانو له لاسه تعذیبونه او شکنجې ګاللې، د زندانونو په پنجروکې یې شپې صبا کړې او د پانسي په کړی کې را ځوړند شویدي. خود دې ټولو سره سره هم د خدای (ج) د پاکو بندګانو په عقیده او ایمان کې کوم بدلون او انحراف نه دی لیدل شوی.

زموږ په هیوادکې هم وروستنې ځوکلونه د حق او باطل ترمنځ سره او توده مبارزه روانه ده ، او د ظالمو او د خدای (ج) نه ناخبره حاکمانو په ضدچیغې پورته شوې. د حق د لارې سرتیرو پدې لارکې زیات تکلیفونو او کړاوونه لیدلي ، د جلیخانو تورو کوټوته ور تیل و هل شوي ، همداراز پدې پاکه او مقدسه لارکې او د دې مقدس او عالي هدف (اعلا کلمة الله) لپاره په دار باندې ځیژول شوي، په مردکو سورې شوي او . . .

شهید عبدالعظیم (نور الله) هم د اسلام د لارې د پتنګانو له ډلې څخه وو. چې د نیمخوا ژوند قیصه یې په لاندې ډول سره ده.

شهید عبدالعظیم د طلا محمد زوی د لغمان ولایت د باغ میرزا په کلي کې په ۱۳۳۳ ه ش کال په یوه غریبه کورنۍ کې زیږیدلی ، لومړنی زده کړې یې په ترتیب سره د حیدر خان په کلیوال ښوو ښځې او بیا د مهترلام (رح) په لومړنی ښوونځي کې تکمیل کړې او ورسته بیا د منځینو زده کړو لپاره د لغمان ولایت د روشان په لیسه کې شامل شو.

هغه د خپلو د رسونو په څنګ
کې د نیک استعداد د رلودونکي ،
تل بې وعظ او تبلیغ کولو
او کوشش یې کولو ترڅو خلک
د اسلامي احکامو د پوره عملي
کولو لپاره راو بولي. د اقتصادي
ضعف له امله هغه د رخصتي په
روځو کې مزدور کاری کوله ،
خو د دې کار په پلوکې یې د سوچه
اسلام لورته را بللو د نده هم
اجراء کوله او خپل ورونه یې
د اسلام و خواته دعوت کول.

نومړی شهید څوکاله په
په همدې شان مبارزه کوله، خوکله
چې یوولسم ټولګي ته ورسید ،
د شهید مولوي صاحب ، حبیب
الرحمن سره چې د حزب اسلامي
افغانستان د مؤسسینو اسه دلی
څخه وو آشنا شو ، او د مبارزې
په شکل کې یې هم بدلون راغی ،
هغه وروسته له دې په منظمه او
اصولي توګه خپلې هلې ځلې پیل
کړې ، او د خپل ګران قدر استاد
(مولوي صاحب حبیب الرحمن)
د رهنمائیو او او امرو په چوکات
کې په مخ تې ، او د کونستانو
او د هغوی د نابکار حامی (ظاهر
شاه) له منحوسو اهدافو او مظالمو
څخه یې پرده پورته کوله ، هغه
له دې امله چې د اسلام په لارکې
هر ډول قربانی ته حاضر وو او د
یو خاص هیبت څښتن وو، د منطقې
د کمونستانو له خوا د جمر ثانی
په نوم یا دیده ، په همدې اساس
خلقیانو او پرچمیانو نشو کولای
چې په ښکاره ډول فعالیتونه وکړي.

عبدالعظیم د وینې څښونکی
داود د زرا منځ ته کیدو په دوره کې
د مولوي صاحب په څنګ کې
مبارزه کوله خوکله چې شرائط
سخت شول ، خپلې زده کړې یې
نیمګړې پرېښودې او د مولوي
صاحب سره یوځای مهاجر شو د
کمی مودې تیرولو څخه وروسته
بیرته افغانستان ته راغی او په
وسله وال جهاد یې لاس پورې کړ.
د ۱۳۵۴ کال په عملیاتو کې
چې د لغمان په ولایت کې اجرا
شول د مولوي صاحب حبیب
الرحمن د معاون په توګه یې وظیفه
اجرا کوله ، او د همدې عملیاتو
په ترڅ کې تپي شو ، د تپ
اخستلو څخه وروسته یې مولوي
صاحب ته وویل: مولوي‌صاحب !
زه خو زخمي شوم او نه شم
کولای چې لاړ شم ، د ابه د
خدای (ج) رضا وی ، تا ته اجازه
ده لاړشه او تر بوه ځایه پورې
ځان ورسوه. . .

خو د مولوي صاحب ایمان
او غیرت اجازت نه ورکړله چې
خپل زخمي شوی ورور یوازې
پریږدي او دې لاړشي ، هغه ووېل
که د ده د سر په قیمت هم تمامیږي
خپل ورور به یوازې د ظالمانو
په منګولو کې ورنه کړي ، په همدې
ایماني غیرت سره هغه وکولای
شول چې دواړه تر حیدر خان
کلي پورې ځانونه را ورسوي.
خو د حکومتي جاسوسانو د اطلاع
له امله د وخت حاکمانو ته خبر
رسیږي او دواړه په همدې کلي
کې د لواودې سفاکانو په منګلو
کې یوېږي. او د زندان تورو
کوټو ته اچول کیږي. پاته دې
نه وي چې نومړی شهید د نیولو
څخه وروسته د حکومتي
واکدارانو د منتهي ظلم اوحیواني
روحې په اساس د لغمان په ښارکې
بربنډ ګر زول کیږي.

هو! داد طاغوتیانو یومیراثي
عادت‌دی‌چې،له‌هری‌وسیلې څخه‌کار
اخستیل ورته عار او شرم نه دی.

په هرصورت، کله چې عبدالعظیم
(نور الله) جیل ته اچول کیږي، د
تحقیق په دوران‌کې د زیاتې شکنجې
او تعذیبونو څخه وروسته‌چې تحمل
کوي یې د اعدام حکم ورباندې
صادریږي خو وروسته بیااعدام په
حبس‌ابد بدلیږي ، کله چې هغه په
محکمه کې د قاضي له خواد حبس
ابد حکم اوري قاضي ته وایي :
پس له زندان څخه به‌هم خپله
مبارزه جاري و ساتم ، دا به هم
تیرشي.

بقیه در صفحه (۲۴)

تیرې شپې خو هیرې نشي

هغه چې د پنځلسو نه زیاتې ورځې په لاهور کې د یوه کار د لټون لپاره تیرې کړې وې او په مهاجرینو ډک پیښورئې د دیرو ورځو د پاره شاته پریښې وو، څه نا څه آرام او مطمئن ښکاریده ، د ضمیر او وجدان اضطراري حالت ئې څه نا څه عوض شوی غوندې وه، په زړه‌کې ئې وویل: کاشکې سړی لاهور ته راشي او دلته گوښه د مهاجرت څو ورځې تیرې کړي ځکه داسې به ئې په هره کوڅه او په هره لاره‌کې د مهاجر د غم ځپلې څیرې سره ناکامې همکارې احساس نه د سکونډې ، دلته به د یتیمانو سپیره مخونه او لمدې سترگې د بشر دوستۍ د ځوریدلې وجدان په کوره‌کې هره شیبه نه ویلوي.

هو! دلته به د بې وسۍ او بې اسرې مهاجر بده ورځ او سترې تکلیفونه، نه وینې او د خپلې بې وسۍ او ناکامۍ نه به د هغه د بد حالت په بټ کې نیني ، نیني نه کیږي.

هو! هغه د لاهور په یوه ویگن کې سپور او د خپلې روحې هوسایني او آرامې د پیاره ئې داسې ناکام او بیځایه چرتونه وهل، فکرئې کاوه چې د خلاصون او آرامۍ لاره همدا ده ، په همدې فکر او پلان کې د ویگن کلینر په زوره زوره چغې کړې نیو هسپتال!

هغه وه چې هغه ناکام پلان په ځای پریښود او د ویگن د آخر نه په کیره ملا د ویگن د دروازې په خوا راو بهیده او ښکته شو.

څنگه چې په ویگن کې ډیر بیرو بار (تمبه تیل) وه او هغه هم په بیځایه پلانونو کې ستړې شوی وه ، په مخ ئې لاس راکش کړ او څه نا څه د ملا شخې ئې وو یستله ولې خوله ئې لا همداسې په سترې او غمجن او سویلې خلاصه وه، چې یو زوړ سپین ږیرې افغان مهاجر ئې مخې ته و درید او په اوږدوځي لاس ورته آرام کښیښود، په آشنا آشنا سترگو ئې ورتیوکتل، د څه ځنډ نه وروسته ئې ترې پوښتنه وکړه :

وروره ! ته افغان يې ؟

هو ! کاکا زه افغان یم.

سپین ږیرې د سړک په منځ منځ کې څو پرله پسې داسې پوښتنې وکړې.

د پیښور نه کله راغلې ؟ په کوم حزب کې يې ؟ دلته څه کار کوې؟

خدای شته چې بیچاره ډیر و ارخطا ښکاریده او د بیگانه محیط سره تبه ئې په زړه ورننو تلې وه هر څه ته ئې په نا آشنا، نا آشنا سترگو کتل.

راحت طلبه مسافر چې د ډیره وخته د مهاجرینو د دردونکې ژوند لښتته په مخ نه وه خوړلې پوه شو چې د دې ځوریدلې او وارخطا سپین ږیرې تصادفي ملاقات اوکلیو الې پوښتنې کوم تصادف ندې ، هغه هم د سړک په خوا کې و درید او د ویگن په منځ کې ئې د پاخه کړې ناکام

پلان خپې کـرشي ژر ژر
راولوستلی او پوه شو چې دا غم
داسی نـدی چې لاهور تـه پـه
تښتیدلو هیر کړی شی او پوه
شو چې دا د الهی د روح پالونکی
تقدیر برخه ده چې بې مقاومته
مسافر ئې هم د خپل خام پلان
په پای کې د داسی یوی غمجنی
افغانی خیری په وراندی و دراوه
چې د غمونو او غصونه مالا
مال خیره ئې د ځوان نسل د قیام
او انتقام انتظار باسی.

دلتـه وه چې راحت خیـالی
مسافر د وطنه کړیدلی زاړه افغان
ته وویل:

کاکا وو ایـه مطلب دی څـه
دی.

هغه بیا وویل. وروره په کوم
حـزب کی ئې ؟ د . . . حـزب کی
خونه ئې؟

زه په بل حزب کې یم کیسه
دی لنده کړه.

غم او درد کیشولی سپین
ږیری چې خیرن څادر ئې شو اړ
پاړ په اوږه پروت وو د جهاد په
سنگر کې د تیپ خوړلی زوی کیسه
د سره شروع کړه، د سنگر نه
تر پیښوره بیا د پیښوره ترلاهوره.
که څه هم د ریکشاگانو، ویگنونو
او نورو عراده جاتو زیرو یم، غږ
او غرهـار زیـات وه خو سپین
ږیـری پـه ولاړو ښو ژر ژر د
خپل مریض زوی سره د تکلیفونو
او ربړونو داستان په زیر او زبر
داسی تیر کـړ. چـی د داستـان
قهرمان ئې د بې خرڅې د پاسه
د زوی ناتمام او ناکام علاج وه.

خدای خبر چې سپین ږیری
پلار به په لوی لاهور کې څومره
ستومانی د خپل زوی د علاج د
پاره گاللی وی او خدای خبر چې
په نا آشنا وطن او نا بلده ښار کې
به څومره څوریدلی او هسکیدلی
وی ، خو هغه په آخر کې پداسی
حال کې چې د زخمی زوی غمجن
داستان ئې پیاهم دوه مهم نه
گانه داسی وویل:

د افغانستـان نـه څـه وخت
راغلی ؟

په افغانستان کی څه حال وه ؟

آسوده خاطـره مسافـر چې د
افغانستان او هلته د جهاد وضعه
هم نـه وه لیـدلی پـه کراره او
شرمیدلی لهجه ئې وویل.

کاکا زه د افغانستان څخه ډیر
پخوا راغلی یم. اوس په پیښور کې
او سیږم.

سپین ږیری چې د افغانستان
د روان جهاد نه ئې خو میاشتی
حال نه د رلود او په اردو هم
نه پوهیده، په ملاماتونکی لهجه ئې
راحت طلبه افغان ته وویل:

آخر ته خو به خبرونه اوری
او یا به خبر ئې په جبهوکی د دی
جرمنی د زامنو (روسانو) څه
حال دی؟

راحت پـاله افغـان چې نور
کار هم د رلودو نې غوښتل چې
ژر ځان خلاص کړی، وئې ویل:
جنگ په شدت روان دی، په زرهاؤ
مهاجرین هره ورځ په پیښور را
توئیږی، هره ورځ زخمیان اولاس
ماتی د پیښور په خوا راځی، خاصتا
جنگ په کابل کې زیات په شدت
روان دی څـکه هلته اوس ساړه
دی.

د راحت طلبه مسافـر لنده را
پور په ختمیدو ووچې د سپین ږیری
غم خوړلی او غمو اخیستی ښځه
چې په غونځې ، غونځې مخ کې ئې
د محاصره میندو سپیره ورځ له وراَیه
لیدل کیده، هم را ورسیده او د
جنگ خبرو ته ئې غوږ ونیو خو
خبری آخر ته نه وی رسیدلی چې
د سپین ږیری سترگو اوښکی خوشی
کړی او وئې ویل:

خـدای مومل شه مجاهدینو!
راحت طلبه مسافر چې لا تر اوسه
هم چندان په درد او غم کی نه
وو لویدلی پوه شو چې هغه بیخی
خطا فکر او خیال کی دی، د دین
او ملت سره داسی مینه پکار ده
لکه دی سپین ږیری سره چې ده.

خو پدی وخت کی سپین سری
بوډی ښځې د راحت مزاجه افغان
پـه لور چې نوی پتو او نـوی

کالی ئې په غاړه کې وو د غم او
درد نه ستړې شوې سترګې ور واړ
ولې او د اسرې نه په ډک
او ازڼی وویل:

زویه : ته څوک په لاهور
کې نه پیژنې ، په ډاکترانو کې
آشنا نفر نه پیژنې؟ مونږ خو دلته
هیڅوک نه پیژنو اونه موڅوک
غم خوری ، زخمی زوی می په
بدحال پروت دی کله مو یوی
خوا او کله موبلې خوا لیږی
هیڅ په سر او برنه پوهیږو.

زویه ته خو بلد را ته بنکاری
که له مونږ سره لږ کومک
وکړی.

د سپین سری بوډی مور غږ
چې په هغه کې د افغانستان د
روان ماتم نوحې زمزمه کوله،
راحت پلوه مسافر افغان ئې په
خپل نوی پتو او نوبو کالیو کې
اوړه اوړه کړ او پوه شو چې د
روان ماتم ابعاد څومره غمجن
او طاقت څپونکی دی؟ هغه اوس
د راحت طلبی او بیغمی د اوږ ده
خو په را ویښ شو وئی لیدل چې
د سپین ږیری کاکا په سپینه ږیره
او د سپین سری مور په سپینو کو
څیو کې د وطن د آزادی او د
اسلام د سرلوړې تصمیم څرګندیږی،
هغه اوس پوه شو چې د اوخت
د نوو کالیو ندی، اوس باید د
لاهور په ځای پیښور ته او د
پیښور په ځای کابل ته جهاد ته
لاړ شی، ځکه هغه د سپین ږیری
کاکا اوسپین سری مور په لړزیدلی
او از او غم لړلو څیرو کې د
ځوان نسل نه د قیام او انتقام د
ضرورت اپیل پوره ولوست. خو
راحت طلبه مسافر پس له هغه
چې د سپین ږیری او سپین سری
د زخمی زوی په باره کې د
جماعت اسلامی د همکاری نه ډاډه
کړل، په یوه عالم درد او غم کې
سپین ږیری او سپین سری او د
لاهور نا آشنا محیط په خدای
و سپارل او د افغانستان د
بی احساسه ډاکترانو په حال چه
هغوی هم د اولس هغه زخمیان
په ډاکې ډاک پرایښې اوسی.
او خپله په واسطه اوپستی د لندن
او پاریس وبلاګانو ته آرام تنوتلی
دی د هر خفه شو، همداسی راحت
پلوه مسافر زنګیدلی ځان په خپل
کار پسی روان شو چې تا به ویل
د هغه د زړه ستنې بیخی له ځایه
کړی شوی او د ځان سره ئې
د دی بی و سو، بی پناه بو ډاګانو
د غمشریکی په لړزیدونکی وسوسه
کې ویل:

چې روسانو کمونستانو!
دا به تیر شی خو هیر به
نشی.

□□□□□□□□
□□□□□□□□

کجا می روند؟ ...

اگر لاف ایمان داری و
پشتیبانی از حق را می زنند باید
تعلقات و وابستگی های محرمانه
را با غرب درهم شکنند و بدانند
که راه رفتن و سازش با زور
گویان جهانی به آرزوی کسب
موقعیت های موقت و حباب گونه
خارج شدن از اسلام و دشمنی با
مسلمانان جهان است. سرانجام بدانند
که حاکمیت در افغانستان عزیز
از آن کسانی است که با قاطعیت
و عدم موالات با دشمن انقلاب
را به پیش می برند ، و در برابر
موجهای شرک و ظلم چون
صخره ها پایدار اند.

از آن کسانی است که
حکومت را برای اسلام می
خواهند نه اسلام را برای
حکومت کردن. خلاصه دست
بوسان (رهگن) بفهمند که کسانی
درین انقلاب عالم شمول
افغانستان نقش تعین کننده دارند
که از دین بهره برداری سیاسی
نکرده اند و بنام حمایه از دین ،
دین را به دشمن نه فروخته اند.

(به امید پیشروی سازش نا
پذیران مسلمان با دشمن)

شهید سحر ګل ...

دا شعار څو ځله تکرار کړ چی (بالاخره د دواړو دارینو بری زمونږ دی ، اسلام کامیاب دی ، نابود دی وی د اسلام دښمنان).

د زلمی د الله اکبر ویلو او شعارو نوور کولو په وخت کی د رژیم د خرڅ شو یوقاضیانو سرو نه خوړند او ښکته ئی کتل.

زلمی او ملګری ئی و لڅک او زولنی له محکمی نه وویستل ، څو ورځی وروسته بیا محکمی ته حاضر کړای شول او ورته وویل شول چه د دولت د تجدید نظر په اساس تا سو په ابد حبس محکوم او اعدام مووبښل شو ، خــو زلمی او همسنګرو ملګرو ئی نه د دار له کړی نه څه ویره درلوده او نه د رژیم عفوی دوی خوشحاله کړل د هغوی نه د دری تنو په هکله د اعدام حکم د مرتد او مزدور رژیم لخوا تطبیق شو چی دا دری تنه مولوی صاحب حبیب الرحمن، انجنیر صاحب حبیب الرحمن او داکتر صاحب محمد عمر وو.

زلمی په زندان کی د خپلو نورو زندانی وروڼو سره یو ځای شپی ورځی تیرولی. دی په زندان کی په پرتو مجاهدو وروڼو ډیر ګران وو - د ده په زړه ورتیا او کلکه عقیده ئی ډیر افتخار کوولو.

زلمی د زندان نه د لغم د کیندلو په پلان کی زیات رول درلود او په نظر کی وه چی ددی پلان په تطبیق سره لوړی دی له زندان څخه ووځی ، خو له بده مرغه پلان د دولت لخوا کشف او زلمی د خپلو مجاهدو وروڼو سره په زندان کی پاتی شو.

کله چی د ۱۳۵۷ کال د غوایی خونـــړی فاجعه پیښه شـــوه زلمی د خپلونو رو مجاهدو وروڼو سره د پلچرخی زندان ته منتقل شو ترڅو د ۱۳۵۸ کال د جوزا په ۸ نیټه د ماښام د ډوډی نه وروسته د پنجرو ترشا د (۱۱۸) تنونو مونه و لوستل شول او ورته وویل شول چی خلاص شوی خو . . .

خو زلمی او مؤمن ملګری ئی پوهیدل چی د خلاصیدو خبره نده بلکه د روس د مزدورانو لخوا د یوه بل وحشیانه جنایت د پیښید و د اغاز اعلان دی.

د زلمی د کوټی قلف خلاص شو ، را ووت ، په دهلیز کی ښکته پور ته لاړ او د خپلو وروڼو سره ئی اضطراری غونډه وکړه ، په غونډه کی فیصله و شوه چی رژیم غواړی مونږ په شهادت و رسوی نو باید په وروستیو شیبو کی یو ځل بیا وسله و ال جهاد و کړو. ټولو فیصله و منله.

دوی ته د هلیزنه د وتلو غږو شو ، زلمی او مجاهد ملګری ئی پداسی حال کی چی ښه پوهیدل چی چیرته بیول کیږی خوبیا ئی هم له ځیرونه هیڅ ډول ویره او ډار نه بریښیده ، ټولو د قران مبارک ایتونه تلاوت کول او یو بل ته ئی د شهادت زیـری ورکا وه.

یوه عسکر زلمی ته غږ و کړ.

زلیمه بستره دی واخله کښه.

زلمی مخ ورته را واړا وه ، موسکی شو او ورته و ئی ویل :

هغه د ستا ، زما او د بستری نورد بیلتون ګری را رسیدلی ، او ددی خبری سره مخ په وړاندی لاړ.

کله چی د زندان په صحن کی د روس د غلامانو لخوا و د رول شول او غوښتل ئی چی و لڅک ئی لاسو نو ته و رواچوی ، د یوه مجاهــد ورور لخوا چی مخکی د عملیاتو د قوماندان په حیث ټاکل شوی وو د پلورل شویو غلامانو په خلاف د عملیاتو امر ورکړی شو ، او ټولو د (الله اکبر) په نارو سره په مرتدا نو په تش لاس برید وکړ د دواړو خوا وو ترمنځ خونړی نښته پیښه شوه ، څــو میله وسله د مجاهد و وروڼو لاس ته ورغله او تر هغه ئی جګړه

وکړه ترڅو په خپلو وینو کې ولمبیدل او د شهادت په خواږه خوب ویده شول.

زلمی ټپي شوی وو، خو ددی سره سره ئې د زندان له د یوال نه ځان بهرته وا چولو.

مرتد و خلقیانو لدی کبله چې مخکې ئې لا دا فکر کړی وو چې مسلمانان هیڅکله هم دښمن ته نه تسلیمیږی د زندان نه بهر په شاو خواکې ئې زیات شمیر زر هپوښونه د رولی وو.

زلمی لا ډیره لار نه وه وهلی چې د رنیا اچونکو راهدار په وسیله ولیدل شو او سمدستي ور باندی د زر هپوښونو لخوا د گولیو اور بل شو . . .

ترڅو هغه هم د مرتد رژیم د وحشي لیوانو لخوا د شهادت لوړی مرتبې ته ورسید خو د رژیم وحشي لیوانو ته ئې ځان ژوندی تسلیم نکړ.

(اناالله و انا الیه راجعون)

شهید عبدالعظیم ...

شهید عبدالعظیم په بندیخانه کې هم تر خپله توانه پوری د نورو ورونو د بیداری په لارکې هڅه کوله او په محبس کې د مسلمانانو د رهبری شوری غړی وه. همداراز د صوف د بریالی سوزی کیدو په صورت کې به د اول گروپ په ډله کې له محبس څخه بهر کیده ، (خو متأسفانه چې په وروستیو شپورو څوکی دا پلان د وخت د حکومت لــه خــوا کشف شو).

شهید نور الله (عبدالعظیم) د حبس په دوران کې قرآن الکریم حفظ کړ او دینی علوم یې زده کړل.

د ۱۳۵۷ کال د بد شاگومه کود تا وروسته چې د مسکو کړی په غوږ غلامان قدرت ته ورسیدل، دی وینو څښوونکو ، د چنگیز او ستالین شاگردانو چې هیڅکله د مسلمانانو موجودیت نشوای تحمــل کولای ، او تــل یې د اسلام او مسلمانانو د محوه کولو لپاره مبارزه کړې یوه. نو هغه اسلامی او واقعی مبارزین چې په قفس کې ورته گیر راغلی وه کله هم نه شوای آزاد ولای. هغوی فکر کولو چې د دی مبارزینو په شهادت به د اسلامی جنبش مخه ونیسی، خو دا پوچ خیال وه. کمونیستی رژیم د خلکو د وژلو په مسابقه نړیوال ریکارډ ورولی وه د همدی روحیې په اساس ، زیات شمیر اسلامی مبارزین چې شهید عبدالعظیم هم د هغه له ډلې څخه وه د ۱۳۵۸ کال د جوزا په اتمه نیټه د تره کی د خونخوار رژیم له خوا په شهادت ورسیدل.


(انا لله و انا الیه راجعون)



جوانی به چشم می خورد که در راه حاکمیت دین
خدا وا نهزام صفوف پراگنده دشمن هر دو پایش زخم برداشته
و هم رزم دلسوزش به اخلاص تمام تیمار داری او را می کنند

معرفی یک چهرهٔ جاودان

شهید
انجنیر غلام نبی (شوریده)



«ان الذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا تتنزل علیهم الملئکة الا تخافوا ولا تحزنوا و بشروا بالجنة التی کنتم توعدون».

ترجمه: آنانیکه گفتند الله پروردگار ماست، و بعداً «درین راه» استقامت و رزیدند فرو د بیاید بر ایشان ملائکه «به هنگام موتشان» و بگویند مر ایشانرا که خوف ناک نباشید و اندوه مخورید، و خوشحال شوید به بهشتی که وعده داد می شدید.

